# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک


۲۳ مارچ ۲۰۱۶

## یوویشتم مجلس(خلکوته نه پاملرنه)

دسی شنبی پرماښام د ۵۴۵ هجری قمری کال ذذی القعدی په پنځه لسمه نیټه شیخ عبدالقادرګیلانی (رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل: دنیا دآخرت حجاب دی، اوآخرت د لقاءالله اوددنیا اوآخرت دپیداکوونکی دقرب پرمخ حجاب دی. مخلوق په ټوله سره دخالق حجاب دی، هرکله که له دوی سره وی نوپه حجاب کی به وی. دنیا اوخلکو ته یی پاملرنه مه کوه، اوپرته له خدایه بل څه په نظرکی مه نیسه، ترڅودباطن په ګامونو اودزهد په رینتینوالی، اوله ټولو علایقوڅخه په خلاصون دحق درګاه ته راشی، اویوازی له ده څخه مدد اومرسته وغواړی اودی خپل فریادرس اوغمخوروبولی، اودده دصنع اوعلم تماشاګرواوسی. هرکله که له دی مرحلی به بری سره تیرشوی، اوزړه اوباطن دخدای ته متوجه شو، تابه نورهم نیږدی کړی اومقرب به دوګرځوی، اوروحی ژوند به دروبښی، اودخلکو پرزړو به فرمانروایی وکړی، اودزړونو طبیب به وګرځی. پدی حال که به ستاوجود داهل دنیا لپاره یونعمت وګرځی،داسی به ددوی په روح اوروان کی نفوذ وکړی چی په ډیره سادګی به وکولای شی ددوی ټول تعینات، تعلقات او شتمنی په لاس کی واخلی اوهغه فقراو اودرویشانواونورو اړوخلکو ته وسپاری، البته پداسی روحیه سره تلاش دروزی لپاره عین عبادت دی. هرڅاچی دنیاپداسی ډول لاس ته راوړه، ده ته به هیڅ زیان ونرسوی اوله ګزند یی په امان کی وی، ددنیا قسمت یی له آلودګیو نه پاک وی. ولایت داولیاءو په څیره کی نښانونه لری چی دفراست اهل یی پیژنی، علائم اونښانونه ددوی دولایت نښه بلل کیږی ،نه ددوی ژبه اوادعایی.

هرڅوک چی دخلاصون(رستګاری) غوښتونکی دی، باید خپل ځان په ټوله سره دخدای په لاره کی بذل کړی، اوپه زړه اوځان ددنیا اودخلکو څخه لیری شی، ددی کارظرافت اودقت کټ مټ ددی په څیردی چی له اوړو څخه اویا ښیدوڅخه وبینته راباسی، همدارنګه له آخرته هم باید وتښتی، اوپرته دحق له ذاته هیڅ شی ته پام وانه اړوی. نوهمداوخت دی چی دهرذی حق حق ورته په لاس ورکول کیږی.

له دنیا اوآخرت څخه دومره ګټه پورته کړه چی هغوی ستا خادمان وګرځی. داسی پاملرنه دنیا ته مکوه چی هغه ناسته اوته ورته ولاړ اوپه خدمت کی یی وی. پوه شه هرڅوک چی دخدای په درګاه مقیم شو، دنیا به دیوی خدمی په توګه دده په مخ کی حاضره شی. ولی هرهغه څوک چی ددنیا په عطا پسی شو، نو دنیا به دی خواراوذلیل کړی.

ټول کائنات دحق پروړاندی ناتوانه دی، توانمندی اوعزت یوازی دخدای عزّ وجلّ په ارادت پوری تړلی دی.

دراستانوقوم په دنیا کی له خدایه په اخلاص اوتنګدستی کی راضی دی، اوپدی سره چی په آخرت کی به دقرب مقام ته رسی، خوښ دی. له خدایه پرته له خدایه بل څه نه غواړی. پوهیږی چی روزی ویشل شوی، پس دهغی په لاس ته راوړلو کی بی حاصله زیاز نه باسی. اوپوهیږی چی دآخرت درجات اودجنت نعمتونه هم ویشل شوی، نوځکه خپل حسنه اعمال دهغی لپاره نه ترسره کوی، اوپرته له خدای عزّ اوجلّ بل څه منظور نلری. هرکله که دجنت دروازی یی پرمخ پرانیستل شی، اوهغی ته ورننوزی، ترڅو دحق دذات نورونه وینی، سترګی نه پرانیزی.

له یوازی توب سره مینه ولره، ځکه هرهغه څوک چی زړه یی له خلکو اوظاهری سببونو څخه تش نه شو، اوپه ممکنه اندازه له دنیا راضی نشو، نشی کولای دانبیاو،صدیقینو اوصالحینو په لاره ګام واخلی. ددنیا دمال په طلب اوډیروالی کی مه اوسه،چی هلاکت ته به دی ورسوی.

حسن بصری(دخدای رحمت دی وی پرده) فرمایلی: خلکوته په علم اودرست کلام سره پند ورکړه. ای واعظه باید دباطن په صفا اودزړه په تقوی خلکو ته پند ورکړی، نه په ظاهره پاک اوباطن ناپاکه.

لوی خدای مخکی دانسان له پیدایښت نه، دهغی په زړه کی ایمان ځای کړی. ولی نباید په هغی قناعت وشی اوتکیه پری وکړی، بلکه باید دکامل ایمان اودرست یقین دلاس ته راوړلو لپاره زیاروباسی، اوځان دحق درحمت نسیم ته پریږده، اودحق په درګاه ملازم اوسه، اودزړه څخه دکامل ایمان په کسب کی اوسه. ښایی خدای تبارک وتعالی هغه پرته له زحمته اورنځه درته ارزانی وفرمایی.

(ای لارویه) هغه صفتونه چی خدای تعالی دځان لپاره بیان کړی مه تأویلوه، داسی چی صحابو اوتابعینو هم ندی تأویل کړی، مثلا خدای فرمایی: پروردګار په عرش قرارلری، باید پرته له تشبیه اوتعطیل اوتجسم څخه هغه ومنی.

لویه خدایه ،مونږته خپله لقاء روزی وفرمایی اوموٴ ید موکړی اوله بدعت اونوآوری نه مو وساتی.آمین

**«وآتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار.»**